د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

HIZB UT TAHRIR

دوشنبه ۱۵ رجب ۱۴۳۹هـ | ۲۰۱۷-۰۴-۰۲م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۹/۰۴

مطبوعاتي اعلاميه

# په افغانستان کې امريکايي ملېشه جوړونه، د قومي او سمتي تفرقې لامل

د افغانستان دفاع وزارت اعلان کړې، چې د "محلي پوځ" په نامه نوی ځواک جوړوي. ټاکل شوې چې د دغه ځواک شمېر به ۳۶ زرو نفرو ته ورسېږي. نوموړی پوځ ظاهراً په تر ګواښ لاندې ولسواليو او کليو کې د امنيت د ټينګښت او د افغان امنيتي ځواکونو د تلفاتو د کمښت په موخه پلان شوی دی.

**د حزب‌التحرير ـ ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر** د دغه ځواک رامنځته کېدل يوه بشپړه امريکايي طرحه بولي او که عملي هم شي، د امنيت ټينګښت ته کومه ګټه نه لري، بلکې په يادو سيمو کې به د لا زياتو قومي او سمتي شخړو لامل شي.

سره له دې نوموړې طرحه په افغانستان کې د امريکا له منافقت او دوه مخيتوبه په ښه توګه پرده پورته کوي. ځکه له يوه اړخه امريکا د افغان امنيتي ځواکونو د پياوړې کېدو شعار ورکوي؛ خو له بل پلوه په عملي ډګر کې يې تل هڅه کړې ترڅو بېلابېلې ملېشې جوړې کړي. امريکا د تاوتريخوالي په کمښت او خلکو ته د امن د فضا په رامنځته کولو کې ناکامه شوې او اوس ظاهراً هڅه کوي چې د ملېشو جوړولو په وسيله امنيت ټينګ کړي. په داسې حال کې چې اوسنۍ طرحه د محلي پوليسو (اربکيانو) يوه بله بڼه ده، کوم چې امريکايانو په ۲۰۱۰م کې رامنځ ته کړل او د ډول-ډول ترخو او ناوړه پايلو لکه: د نا امنۍ او وېرې د زياتوالي، د خلکو د ځورولو، غلا، چور چپاو، د ملکيانو د وژلو او د قومي او سمتي شخړو د راپورته کېدو لامل شول.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**